# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت:

د ۲۰۲۴ کال جنوري - مارچ میاشتو راپور

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دغه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه معلومات چې د ۲۰۲۴[۱] کال له جنوري څخه تر مارچ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي، د هغې څارنې پر بنسټ ولاړ دی چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ورکړل شوي ماموریت له مخې ترسره شوي.[۲]

## د ښځو او نجونو حقونه

د مارچ په ۲۰ مه برحاله چارواکو له شپږم ټولګي پورته د نجونو پر زده کړو د بندیز له کبله، په افغانستان کې نوی ښوونیز کال، په لېسو کې د افغان نجونو له شتون پرته پیل شو.[۳] په کابل کې د نوي تعلیمي کال د پیل په مناسبت په جوړو شویو مراسمو کې د ګډون بلنه چې د پوهنې وزارت له خوا رسنیو ته استول شوې وه، په ځانګړې توګه ښځینه خبریالانو ته لاربښوونه شوې وه ، چې د ښځو لپاره "د مناسب ځای د نشتوالي" له امله دې ګډون نه کوي.[۴]

په داسې حال کې چې د یوناما د بشري حقونو څانګې د حجاب لاربښونې د تطبیق په اړه[۵] په ځانګړې ډول د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر د کارمندانو له خوا د راپورونو ترلاسه کول جاري ساتلي، دغه ډول پېښې د تطبیق د پراخې کچې اقداماتو په توقف سره کوم چې د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر او د ۲۰۲۴ کال د جنوري ترمنځ رامنځ ته شوې، د ۲۰۲۴ کال له جنوري وروسته د پام وړ راکمې شوې.[۶]

## د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله رامنځته شوي زیانونه

د ۶ - ۱۱جنوري تر منځ، په کابل ښار کې د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو، درې چاودنو لږ تر لږه ۷۹ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله:

- د جنورۍ په ۶مه په دشت برچي کې، د کابل ښار د شیعه هزاره توکمو ګڼ میشته سیمه کې، د ځای پر ځای شوي ماین چاودنې یو عام میني بس په نښه کړ، چې لږ تر لږه پنځه ملکي وګړي (یوه ښځه، درې نارینه او یو د نا معلوم عمر او جنسیت کس) یې ووژل او لږ تر لږه ۲۰ نور یې ټپیان کړل (۱۸ نارینه او دوه تنه یې د نامعلوم عمر او جنسیت کسان وو). د اسلامي دولت - خراسان ولایت څانګې د برید د مسؤلیت په غاړه اخیستلو ادعا وکړه او ویلي یې دي چې هدف یې "کافران" وو او دا یې د خپل هغه کمپاین "هر ځای چې یې ومومئ دوی ووژنئ" یوه برخه بللې.
- د جنورۍ په ۹ مه د ۱۶مې حوزې په آلو خپلو سیمه کې د ځای پر ځای شوي ماین چاودنې د برحاله زندانونو د چارو د سمون اداري د کارکوونکو د لیږدولو یو بس په نښه کړ. په برید کې لږ تر لږه درې نارینه لویان ووژل شول او لږ تر لږه ۱۳ نارینه لویان ټپیان شول. د اسلامي دولت - خراسان ولایت څانګې د برید د مسؤلیت په غاړه اخیستلو ادعا وکړه چې هدف یې هغه موټر و چې د زندان کارمندان یې لیږدول او دا یې د خپل هغه کمپاین "هر ځای چې یې ومومئ دوی ووژنئ" یوه برخه بللې.
- د جنورۍ په ۱۱مه، شاوخوا درې بجې وروسته د ماسپښین څخه، د کابل ښار د دشت برچي په سیمه کې په یوه سوداګریز مرکز کې د نامعلوم ډول چاودنه وشوه. په برید کې لږ تر لږه درې کسان ووژل شول ( عمر او جنسیت یې معلوم نه دی) او لږ تر لږه ۳۵ تنه ټپیان شول (یوه انجلۍ، پنځه هلکان، اته ښځې او ۲۱ تنه چې عمر او جنسیت یې نامعلوم دی). د پېښې پړه چا پر غاړه نه ده اخیستې.

[۱] په دې راپور کې کارول شوې ټولې نېټې د ۲۰۲۴ کال اړوند دي، البته که د بلې مشخصې نېټې یادونه شوې وي.
[۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ شمیره (۲۰۲۲) پریکړه لیک چې د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک په اساس تمدید شو.
[۳] د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر راهیسې د شپږم ټولګي پورته نجونې ښوونځي ته له تللو منع شوې او ښځې او نجونې د لوړو زده کړو څخه د ۲۰۲۲ کال په دسمبر کې منع شوې. د راپورونو له مخې ښځې او نجونې په مدرسو کې د شپږم ټولګي پورته زده کړه کولای شي اما په مدرسه کې د تدریسي نصاب په اړه معلومات نشته.
[۴] د برحاله چارواکو د پوهنې وزارت ویب پاڼه او ایکس -پاڼه: دعوت نامه رسانه یی | وزارت معارف (moe.gov.af) [په وروستي ځل د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۰ مه کتل شوي]؛
https://twitter.com/moeafghanistan1/status/1770330211944472966?s=61&t=9qjwpPcq_Lu135k77_porw
[۵] په دې ادرس د لاس رسي وړ ده: https://mopvpe.gov.af/ps/%DA%A9%DA%93%D9%86%D9%84%D8%A7%D8%B1%D9%87.
[۶] وګورئ: English HR update Jan 2024 (unmissions.org)

د مارچ په ۲۱مه د کندهار ښار د لومړۍ حوزې په سیمه کې د نوي کابل بانک مخې ته یوه ځانمرګي برید کوونکي خپل واسکټ د برحاله پولیسو د یوې لوېې ډلې په منځ کې وچاوه چې د معاشونو د اخیستلو لپاره د بانک مخې ته ولاړ وو، چې په پایله کې لږ تر لږه ۷۵ تنو ته مرګ ژوبله واوښته: لږ تر لږه ۲۵ تنه نارینه لویان وژل شوي او نور ۵۰ نارینه لویان ټپیان شوي. د تلفاتو ډېری برخه برحاله پولیس دي. د اسلامي دولت - خراسان ولایت د پېښې د مسؤلیت په غاړه اخیستلو ادعا کړې، ویلی دی چې برحاله امنیتي منسوبین یې اصلي هدف وو.

## په خوست او پکتیکا کې د هوايي بریدونو او پکتیا کې د وسله واله نښتو له امله ملکیأنو ته مرګ ژوبله

د مارچ په ۱۸ مه د پاکستان پوځي ځواکونو د هوايي بریدونو په پایله کې د خوست ولایت (سپیره ولسوالۍ، افغان دوبۍ سیمه کې) ملکیانو ته مرګ ژوبله واړوله چې یو ملکي سړی ووژل شو او دوه تنه نور ټپیان شول او دپکتیکا ولایت (برمل ولسوالۍ لمن سیمه کې) ۷ ملکي وګړي ( دوه ښځې ، دري نجونې او دوه هلکان) ووژل شول.

وروسته په هم هغه ورځ د پکتیا ولایت (ډنډ پټان ولسوالۍ په خرلاشي سیمه کې) برحاله سرحدي ځواکونو او پاکستاني ځواکونو تر منځ وسله واله نښته وشوه، چې په پایله کې څلور ملکي افغانان (دري ماشومان او یو سړی) ووژل شول او ۷ تنه نور (دوه ماشومان، څلور ښځې او یو سړی) ټپیان شول.

د برحاله چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد دغه پېښې په کلکه غندلي.[۷]

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مارچ ۱۸ مې نېټې د پېښو[۸] په اړه اعلامیه خپره کړه. د یوناما سره په مراسله کې پاکستان ویلي " موږ په دې اړه هغه ادعاوې ردوو چې ګوندي د پاکستان نظامیانو دې په افغانستان کې ملکي خلک په نښه کړي وي .... د پاکستان د ملکي خلکو او نظامي ځواکونو په ضد لوی بریدونه پلان شوي وو، چې باید مخه یې نیول شوې وی.

داسې ښکاري چې هغه ترهګر چې د مارچ په ۱۸ مه له منځه وړل شوي، ملکیان بلل شوي. " پاکستان په دې اړه یوناما ته "د ملګرو ملتونو د منشور د اهدافو او اصولو " رعایت ته د ژمنتیا یادونه کوي او "یوناما سره کار کوي چې په افغانستان کې یې خپل ماموریت ترسره کړي".

## د رسنیو آزادي

د مارچ په ۱۹مه د خبریالانو د ملي ورځې په مناسبت د برحاله اطلاعاتو او کلتور وزارت په افغانستان کې له خبریالانو څخه ستاینه وکړه. د خبریالانو وضعیت ګډوډ دی. ځینو خبریالانو د ولایتونو په کچه د برحاله ریاستونو لپاره د ویاندویانو په ټاکلو او د معلوماتو د ویشلو لپاره د ځینو برحاله ادارو لخوا د واټسآپ ګروپونو په جوړولو سره معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې د ښه والي راپور ورکړی. سره له دې، خبریالان او د رسنیو کارکونکي په یوه ننګونکي چاپېریال کې خپل فعالیت ته دوام ورکوي، رسنۍ د پام وړ مالي ننګونو سره مخ دي، د برحاله چارواکو لخوا د یو لړ محدودیتونو د وضع کیدو سربیره، دوی د کار په جریان کې د خپلسري توقیف له خطر سره هم مخ دي. د مثال په ډول:

- د جنورۍ په ۱۷مه، په کابل کې د جاپان د کیودو خبري آژانس یو خبریال د نامعلومو تورونو په تور ونیول شو (د جنورۍ په ۲۵ مه خوشې شو).
- د جنورۍ په ۱۸مه، په کابل کې، د ګردش اطلاعات خبري مرکز دوه خبریالان د نامعلومو تورونو په تور ونیول شول (د جنورۍ په ۲۰ مه خوشې شول).
- د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ په ۱۰مه په سمنګان کې، د پژواک خبري آژانس یو خبریال وروسته له هغه د والي لخوا ونیول شو چې د مالیې د زیاتوالي په اړه یې د رستورانتونو او هوټلونو د خاوندانو د اعتراضونو په اړه یوه برحاله چارواکي سره د مرکې غوښتنه کړې وه (د فبرورۍ په ۱۲ مه خوشې شو).

[۷] وګورئ: (Zabihullah (..:ذبـیح الله م ) on X) د افغانستان اسلامي امارت ویاند په افغانستان د پاکسان د هوایی برید په اړه اعلامیه https://t.co/TkB0mpIGd3 https://t.co/8Umztvsrtb" / X (twitter.com)
[۸] وګورئ: https://mofa.gov.pk/press-releases/operation-against-terrorist-sanctuaries-of-ttp.

- د فبرورۍ په ۱۷ په کابل کې د خامه پریس یو کارکوونکی د حجاب د فرمان د تطبیق په اړه د یوه راپور په تړاو توقیف شو (د فبرورۍ په ۱۸ مه خوشې شو).

سربیره پردې، د فبرورۍ په ۱۸ مه ، په کندهار کې، د برحاله والي لخوا لاسلیک شوی یو مکتوب د ریاستونو رئیسانو ته صادر شو چې د غونډو او مجالسو پرمهال د عکسونو اخیستل منع کوي او انځوونو ته لاسرسی محدودوي کوم چې رسنیو کولای شو هغه وکاروي.

## پخواني دولتي چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو غړي[۹]

پر افغانستان د بیا واکمنیدو پرمهال د برحاله چارواکو له خوا د عمومي بخښنې سره سره د یوناما بشري حقونو څانګې ته د پخواني حکومت چارواکو او د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو پخوانیو غړو ته د ګواښونو، په خپلسري توګه نیونو او توقیف، شکنجې او ناوړه چلند او له محاکمې پرته وژنو په دوامداره توګه راپورنه ورکول کیدل.[۱۰] برحاله چارواکو یو ځل بیا عمومي بخښنې ته د خپل ژمنتوب یادونه وکړه، د مثال په ډول د مارچ پر ۹ نېټه له الجزیرې سره په یوه مرکه کې، د برحاله بهرنیو چارو وزارت ویاند عبد القاهر بلخي په ډاګه کړه: " موږ د عمومي بخښنې پالیسي ساتلې... اوس مهال په سلګونه زره خلک د افغانستان له حکومت او دولتي ادارو سره اوږه په اوږه کار کوي. او په میلیونونو نور خلک په سوله کې ژوند کوي او له خپل ژوند خوند اخلي."[۱۱] د جنورۍ او مارچ ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو لږ تر لږه د خپلسري نیونو او توقیف ۳۸ موارد، د شکنجې او ناوړه چلند، لفظي ګواښونو لږ تر لږه ۱۰ پیښې، او لږ تر لږه څلور د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو صحرایي وژنو پېښې مستند کړي.

## د اعدام سزا او بدني مجازات

د فبرورۍ په میاشت کې، برحاله چارواکو درې کسان په عام محضر کې اعدام کړل چې د مرګ په سزا محکوم شوي وو. په ټولو دریو مواردو کې، برحاله چارواکو ویلي چې د اعدام سزا د دریو برحاله محکمو (ابتدائیه، استیناف او سترې محکمې) لخوا تایید او د طالبانو د مشر لخوا تصویب شوې وه.

- د ۲۰۲۴ کال د فبروري په ۲۲ مه ، د غزني ولایت، غزني ښار، علي بابا فوټبال لوبغالي کې، دوه کسان د جلا جلا قتلونو په تور په عام محضر کې اعدام شول (قتلونه په ترتیب سره په ۲۰۱۷ او ۲۰۲۲ کې ترسره شوي وو). په یاده غونډه کې د ولایت مقام په ګډون یو شمیر برحاله چارواکو، د برحاله والي، برحاله امنیه قوماندان، برحاله د استخباراتو رئیس، د برحاله محکمو استازو او د سیمې سلګونو اوسیدونکو ګډون کړی و.

[۹] افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه يو عمومي اصطلاح ده چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د تير حکومت امنيتي ځواکونو ته کارول کيږي او په دې کې : افغان سرحدي ځواکونه، سيمه ييز پوليس، افغان ملي اردو، افغان هوايي ځواک، ملي پوليس، د عامه نظم پوليس، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان سيمه ييزه اردو( ملي اردو ورته هم ويل کيده) او ملي امنيت ځواکونه شامل دي.
[۱۰] د عمومي بخښنې په اړه د نورو معلوماتو لپاره د يوناما د بشري حقونو راپور وګورئ: د سولې په وړاندې خنډونه: په افغانستان کې د پخواني حکومت د چارواکو او پخواني افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونود غړو پر ضد د بشري حقونو سرغړونې. دلته د لاس رسي وړ دي.A barrier to securing peace: HR violations against former government officials & former armed force members | UNAMA (unmissions.org).
[۱۱] الجزيرې - انګليسي، ۹ مارچ. په دغې موده کې د عمومي بخښنې په اړه د برحاله چارواکو له خوا په بيانيو کې راتلونکې شاملې دي: طلوع نيوز، "اسلامي امارت د متحده ايالاتو د متحدينو پر ضد د غچ اخيستنې ادعاوې ردوي"، ۳۱ جنوري ۲۰۲۴، دلته د لاس رسي وړ ده: https://tolonews.com/afghanistan-187217(د برحاله چارواکو د وياند ذبيح الله مجاهد څرګندونې)؛ افغان غږ آژانس، "اسلامي امارت د افغانستان لپاره امنيت او ثبات غواړي، همدارنګه د سيمې او نړۍ لپاره امنيت او ثبات غواړي"، ۱۵ فبروري ۲۰۱۴، دلته د لاس رسي وړ ده، https://www.avapress.com/en/news/285908/islamic-emirate-wants-security-and-stability-for-afghanistan-it-also-the-region-world (د رئيس الوزراء د برحاله مرستيال محمد عبد الکبير څرګندونې).

- د ۲۰۲۴ کال د فبروري په ۲۶ مه ، د جوزجان ولایت، د شبرغان په ښار کې، د ورزش په لوبغالي کې، یو سړی په عام محضر کې  اعدام شو، چې د راپور له مخې د یوې وژنې په جرم محکوم شوی و، چې د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په میاشت کې ترسره شوی وو. د برحاله چارواکو یو پلاوی، د برحاله والي، د استیناف محکمې برحاله رئیس، د برحاله سترې محکمې یو پلاوی په ګډون، سلګونه نور ځایي اوسېدونکي د اعدام تطبیق په مهال حاضر وو.  عیني شاهدانو ویلي،  دغه وژنه د مقتول د کورنۍ د غړي لخوا تر سره شوه او دغه کس یې پنځه ډزه وویشته.

په افغانستان کې د طالبانو له واکمنېدو  راهیسې، د اعدام د سزا دوه پخواني موارد دي چې د محکمې د پرېکړې او د طالبانو د مشر په تصویب سره پلي شوي دي: لومړی د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په ۷مه په فراه ولایت کې، دوهم د ۲۰۲۳ کال د جون په ۲۰مه  نېټه په  لغمان ولایت کې ترسره شوي.

د مارچ په ۲۶ مه د برحاله چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد طلوع نیوز ته وویل چې سنګسار د شرعي احکامو یوه برخه ده او "که د سنګسار لپاره شرایط بیا رامنځ ته شي، بې له شکه موږ به شرعي احکام پلي کړو".[۱۲]

برحاله چارواکي هم په عام محضرونو کې د قضایي بدني مجازاتو پلي کولو ته دوام ورکوي، دا ډول مجازات هره اونۍ لږ تر لږه په یوه ولایت کې ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، د فبرورۍ په ۲۵ نېټه، په بلخ ولایت کې، دوه تنه له کوره د تېښتې او زنا په تور په عام محضر کې د استیناف محکمې په انګړ کې، د برحاله چارواکو، د محکمې د کارکوونکو او د عامو خلکو په حضور کې ۳۵ دُرې په عام محضر کې ووهل شول. په همدې ورځ په لغمان کې هم دوه کسان د اخلاقي جرم له امله ۳۵ دُرې په عام محضر کې د برحاله چارواکو په حضور کې ووهل شول.

## عدلي سیستم

د جنوري او مارچ تر منځ برحاله مختلفو وزارتونو د عدلي سیستم په اړه اعلامیې خپرې کړې.

- د مارچ په ۱۹مه، د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د فبرورۍ له ۱۱ څخه د مارچ تر ۱۱مې پورې یې د حقوقي مرستو برحاله ریاست، په جنایي او مدني قضیو کې ۴۶ یې وزله شکمنو او تورنو کسانو ته حقوقي مرستې او په بېلابېلو برخو  او ساحو کې ۱۴ کسانو ته حقوقي مشورې برابرې کړې دي.[۱۳]
- د مارچ په ۲۶مه برحاله د عدلیې وزارت د ۲۰۲۴ کال د مارچ د میاشتې په ۴مه نېټه د رسمي جریدې ۱۴۴۴ ګڼې د خپرېدو خبر ورکړ په کومه کې چې د شکایتونو د اورېدلو قانون او یو شمېر نور فرمانونه، د ځانګړې محکمې رامنځته کول تر څو د هغو ځمکو پر سر شخړې چې ګواکې دولت څخه غصب شوي حل کړي، د حکمونو او فرمانونو د تعقیب او نظارت د لوي ریاست قضیې اړوندو نظامي محکمو ته د راجع کولو، له برحاله د استخباراتو لوی ریاست څخه برحاله د کورنیو چارو وزارت ته د انسان تښتوونکو د تعقیب او نیونې د واک د لېږد په ګډون، په کې شامل و.[۱۴]
- د زندانونو د نفوس په اړه، د جنورۍ په ۲٦مه، د زندانونو د چارو د سمون اداري برحاله مرستیال په یوه مرکه کې وویل، چې د زندانیانو شمېر ۱۹۳۰۰ تنو ته رسېدلی، چې شاوخوا ۸۰۰ یې ښځې دي.[۱۵]
- د مارچ په میاشت کې، یو شمیر کمیټې چې د بندیانو د دوسیو د بیاکتنې دنده ورسپارل شوې وه، تر څو د کوچني اختر په مناسبت د ژر خوشې کېدو لپاره وړ کسان په ګوته کړي، تاسیس شوې.

[۱۲] Stoning Punishment Based on Sharia: Mujahid | TOLOnews.
[۱۳] https://x.com/MojAfghanistan/status/1769956365118701820?s=20.
[۱۴] http://old.moj.gov.af/Content/files/OfficialGazette/01401/OG_01444.pdf.
[۱۵] https://youtu.be/9_Cy6ugjoXA?si=QFRk9J8L19N5cwwJ.

دغه کمیټې له برحاله ادارو څخه له یو شمېر استازو سره د برحاله استیناف محکمې په مشرۍ په یو شمیر ولایتونو کې جوړې شوې.[۱۶] د اپرېل په اتمه نېټه برحاله سترې محکمې اعلان وکړ چې د کوچني اختر په مناسبت د هېواد له زندانونو څخه ۲۸۵۵ بندیان د بخښنې وړ ګڼل شوي او خوشې شول او ۱۴۲۰ بندیانو ته د بند سزاګانې کمې شوې.[۱۷]

- د برحاله عدلیې وزارت د خپل حقوقي مرستو د ریاست د هڅو راپور هم ورکړ چې د برحاله چارواکو او کارمندانو لپاره د پوهاوي لوړولو غونډې جوړوي. د راپورونو له مخې دغه غونډې په هلمند، کابل، کاپیسا ،کندز، ننګرهار او پکتیا کې ترسره شوې او د طالبانو د مشر په لارښوونې، له خلکو سره د پولیسو د مسلکي چلند او حقوقي مرستو ته د لاسرسي په اړه یې تمرکز درلود. همدارنګه د مدرسو، جوماتونو او ښوونځیو ته تلونکو لپاره د والدینو او ماشومانو د حقونو په ګډون د حقونو په اړه غونډې ترسره شوې.[۱۸]

[۱۶] د راپور په اساس میدان وردګ، خوست، بلخ او جوزجان ولایتونو کې کمیټې تشکیل شوې( په ۲۶ مارچ اعلان شوې) او غزني کې د مارچ په ۲۳مه: https://x.com/SupremeCourt_af/status/1772546786239877136?s=20; https://x.com/SupremeCourt_af/status/1772209805370736871?s=20.

[۱۷] https://x.com/SupremeCourt_af/status/1777249314688970770.

[۱۸] د بیلګې په ډول، وګورئ : https://x.com/MojAfghanistan/status/1765653321480544536?s=20; https://x.com/MojAfghanistan/status/1747493303526814008?s=20; https://x.com/MojAfghanistan/status/1769956365118701820?s=20; https://x.com/MojAfghanistan/status/1770736905878962250?s=20.